# د پښتو ادب غوښتنې

شېر علي باچا




يو ځيز په دوه کښې تقسيمېږي کۀ دوه ځيزونه په يو کښې متحد کېږي. دا د کائنات پوهنې او ټولنپوهنې هغه بنيادي سوال دے چې د فکر خاوندان ئې خپلو کښې وېشلي دي. وحدت کښې کثرت دے او کثرت کښې وحدت دے. د صوفيانو د فکري سرگرمو مهمه نکته پاتې شوې ده. ځيزونه يو بل سره تړلي دي او کۀ جدا جدا دي؟ انسان د کائنات يوه برخه ده کۀ د نور کائنات نه بېل حېثيت لري؟ د دې سوالونو ځواب ځيزونو ته زمونږ رويې بېلوي.

هر مادي ځيز دوه اړخه او خپلو کښې يو اندروني تضاد لري. چې د يو ځيز د ابتدا، نشوونما او تکامل باعث گرځي او مختلف شکلونه په دې پروسه کښې اختياروي او دغسې د وحدت نه کثرت جوړېږي او ځيزونه د يو بل سره پوره ارتباط او تړون لري چې نۀ ځان ته بېل پاتې کېدے شي او نۀ پرې مونږ پوهېدے شو.

انسان هم د دې کائنات يوه برخه ده او د انساني ټولنې نه بهر او ځان ته ژوند نۀ شي تېرولے لکه د کائنات د نورو شکلونو او اړخونو انسان هم بېلا بېل اړخونه لري چې د دۀ د جسماني او فکري سرگرمو په حواله جدا جدا دائرې جوړوي چې خپلو کښې ارتباط او تړون هم لري. فطري علوم او ټولنيز علوم د کائنات او انساني سرگرمو د بېلو بېلو او د يو بل سره د مربوط دائرو نه پېدا شوي دي او هم د دې مطالعه او څېړنه کوي.

هم دغه وجه ده چې په انسان د هغۀ د سرگرمو په حواله بېل بېل نومونه اېښودي شوي وي څوک ئې سياسي حېوان بولي، څوک ئې حېوان ناطق، څوک ئې معاشرتي حېوان بولي.

چې حيوان ئې د وحدت او سياسي، معاشرتي او ادبي ئې د کثرت نخښې دي.

زما په خيال يو اديب او شاعر به يو وخت يو سياستمدار او يو سياستمدار هم په هغه وخت شاعر او اديب يا فلسفي دواړه وي او دوي د يو بل نه جدا کېدے نۀ شي. البته په کوم اړخ چې هغه زيات کار کوي هغه چاپ پرې لګي او هم هغه د هغۀ شناخت جوړ شي او بعضې وخت خو داسې دواړه اړخونه برابر شي چې دغه کس ته د اديب يا سياستمدار په نامه بللو کښې قضاوت کول ګران شي.

دغسې هر څيز يو مکان لري او مکان درې ابعاد لري خو دغه مکان په يو زمان کښې رامنځ ته کېږي. د هغې ابتدا، نشوونما او تکامل وي لهٰذا زمان هم لري د کوم چې بس يو بعد دے يعني د حال نه د مستقبل په لوري او بيا په شا نۀ ګوري.

زمونږ ادبي سرګرمۍ بنيادي طور زمونږ د سياسي سرګرمو په حواله زياتې وي او زمونږ سياسي سرګرمۍ د ملي او ترقي پسند ادبي تحريکونو، اديبانو او د هغوي د ليکونو نه راولاړې شوې وي. هند د انګرېزي استعمار په




مستمره کښې بدل شوے وۀ او د افغان خاورې وطنيانو او مېړني اولس د انګرېز استعمار دا ارمان وار په وار د خاورو سره خاورې کړۀ چې په کابل دې د لندن او ډيلي واکمني جوړه کړي.

البته د خپلې نورې وسلې، چل هنر، سازشونو، بډو رشتونو، منصبونو، انعامونو، خطابونو او د پنجابي سيکانو د هغه وخت د دولت او وطن فروشو د ګډ سازش په وجه د افغان وطن په سينه د ډيورنډ توره کرښه راښکلې شوه او د چترال نه تر بولانه پښتونخوا علاقه ئې محکومه او بيا د خپل استعماري سلطنت برخه وګرځوله چې افغان اولس د يوې ورځې دپاره هم منلې نۀ وه او هره دره په هره شله په خيبر په تاتره په تيراه په چترال په وزيرستان په ژوب د استعمار په ضد مبارزې دوام موندې وۀ. خو دا مبارزې به دومره غښتې، قوي او هر اړخيزه نۀ وې او د پوخ سياسي شعور او تنظيم نه به محرومې وې. چې د شلمې پېړۍ په دوېمه او درېمه عشره کښې کۀ يو خوا غازي امان الله خان د يو ازاد، خپلواک او مستقل افغان دولت اعلان وکړو او له بلې خوا په پښتون تاريخ کښې د وړومبي ځل دپاره په محکومه پښتونخوا کښې انګرېز ضد مبارزې د خدائي خدمتګار تحريک او د انجمن وطن په

شکل کښې یوه داسې سیاسي بڼه ونیوله چې د اولس پرګنې ئې راولاړې او تنظیم کړې او یوه تاریخ سازه مبارزه ئې پېل کړه او بې انتها قربانۍ ئې ورکړې.

دې ستر سیاسي پاڅون سره سم ستر ملي ادبي پاڅون وشو. استعمار دښمني، وطن، وطن پرستي، پښتو، پښتونواله، سیالي، ازادي، خوشحالي، بشر دوستي، لوړ همت او صداقت د پښتنو سیاستمدارانو او ادیبانو او شاعرانو زړۀ خوښې موضوع ګانې وګرځېدې چې د اولس ولولې، ارادې، حوصلې او جذبات ئې راوپارول، پاڅۀ ئې کړل او قوت ئې وروبخښلو.



سیاستمدارانو د خپلو تقریرونو او ادیبانو شاعرانو د خپلو فنپارو او شهکارونو په ذریعه د پښتون اولس په وچو او تږو ذهني ورشوګانو د خپل حسن او معنې بارانونه ورول او هغوي به سمدستي جذبول. روحاني قوت، فکري قوت، شعري قوت به سملاسي په اولسي قوت او مادي قوت کښې بدلېدۀ. چې په بدل کښې به سیاسي قوت نور تقویه کېدۀ او زمونږ د قهرمانانو د قوت راز او سرچینه به ګرځېده. ټول ملت په جسماني او فکري لحاظ داسې یو شوے وۀ چې زما او ستا تفاوت ئې د لاسه ورکړے وۀ. د ادیب او سیاستمدار بېلتون له منځه تللے وۀ. نۀ یواځې په فکري لحاظ بلکې د مبارزې په هر مېدان کۀ باچا خان به په جېل کښې وۀ نو ماسټر کریم ته به هم هتکړۍ وې کۀ امیر محمد خان به نظربند وۀ نو شاد محمد مېړے به هم د ځایه نۀ شو خوځېدے. کۀ خان شهید عبدالصمد خان به قېد وۀ نو صنوبر حسېن کاکاجي به هم په هجرت مجبور وۀ. کۀ مهردل خان د هوتي، شاکر الله باچا د ګوجر ګړۍ، قاضي عطاء الله خان، عبدالعزیز خان د زېدې، فردوس خان د مانېرۍ، زرین خان د میا عیسیٰ به په هرې پور کښې وو نو غني خان به هم ورسره هلته د پنجرې چغا کوله. ولي محمد طوفان، عبدالخالق خلیق صاحب، عبدالمالک فدا، تاج محمد خاموش کۀ خپلې ادبي جنډې وچتې نیولې وې نو سیاستمدارانو به په هر مېدان سیاسي جنډې ښکته کېدو ته نۀ پرېښودې. د روح او بدن دې یووالي یوه ستره حماسه، مجادله او رزمیه تخلیق کوله او هر پښتون بچے ئې بې تاثیره نۀ پرېښودو.

مونږ لا واړۀ وو چې د دې پاڅون ځواني وه. زمونږ کورنۍ په دې تحریک کښې فعال شرکت لرلو. د کور تالاشۍ به کېدې، په جلسه جلوس کښې به زمونږ مشرانو وهل خوړل او زمونږ تره سید عبدالحنان باچا په کښې هغه وخت جېل ته

شوے وۀ چې مونږ لا پېدا هم نۀ وو. هغه يو تعليم يافته سړے وۀ، اخبار او پښتون مجله به ئې کتله. زما مور هم د پښتو په ليک لوست پوهېده او بيا ئې د کور وړو او زنانوو ته د هغې مندرجات لوستل او مونږ وړو به خاص کر د هغې د شعرونو نه ډېر خوند اخستلو او د غني خان دې وصيت چې د يو شعار حېثيت ئې لرلو به راته زښت خوند راکولو چې:

کۀ خازې شنې مې په قبر وي ولاړې
کۀ غلام مړ وم راځئ توکئ پرې لاړې
يا به دا بې ننګه ملک باغ عدن کړم
يا به کړم د پښتنو کوځې ويجاړې
چې ټکړې ټکړې مې فوځ د دښمن نۀ کا
مورې ما پسې په کوم مخ به تۀ ژاړې
څو په خپلو وينو نۀ يم لمبېدلے
په ما مۀ پليتوئ د جومات غاړې

د ملي ازادۍ بخښونکي پاڅون په نتيجه کښې انګرېز د هند نه چمتو خو شو خو د افغان اولس نه د انتقام اخستو په معنٰي او زمونږ د تحريک د ځنو کمزورو له کبله هغه داسې وضع جوړه کړه چې د تحريک خپلو دوستانو هم مونږ د لاسو پښو نه وتړلو او شرمخانو ته ئې واچولو. دا يوه داسې تاريخي ګناه وه چې د هغې سزا تر اوسه زمونږ قام خوري او د باچا خان خبره چې هغوي زمونږ د مودو مودو خوارۍ او قربانۍ په سيند لاهو کړې.

د زړۀ په باغ مې ړلۍ وشوه
بويه چې بيا سپرلے راځي سپړې
ګلونه

د پاکستان په جامه کښې د نوې استعماري واکمنۍ منځ ته راتلل د ماسټر کريم خبره يوه داسې سپېرۀ سيلۍ وه چې په ټول وطن الوته او د هر څۀ بر برکت ئې د ځان سره وړلو. پښتانۀ سياستمداران او ليکوال ئې در په در کړل او د ملک ټولې جېلخانې ئې پرې کچ کړې. نۀ يې ملي تحريک او نۀ ئې ترقي پسند ادبي تحريک چلولو او يا مضبوطېدو ته پرېښودو. پښتو رسالې او اخبارونه بند شول، په ازادۍ مئين يا خو په جېلخانو ورننوتل يا په هجرت کولو مجبور کړے شول. آئينونه به يا جوړېدل نۀ او يا به ئې بيا ماتول او د مارشل لا توري لړې به خورې ساتلې شوې چې پکښې د هر چا مرۍ خپې وه او ساه ئې بندېده.

سياستمدار کۀ خپله خبره ابغ په نېغه کوي نو اديب او شاعر په کنايو، اشارو، استعارو، تشبيهاتو او علامتونو کښې د خپلو خيالاتو اظهار کوي. سياست زياتره ډائرکټ عقل ته اپيل کوي او ادب د جذباتو په لاره د زړۀ په ذريعه دماغ ته ځان رسوي. کله چې ابغ په نيغه خبره کول د وخت او مصلحت خلاف شي سياست کول منع شي يا د سياست د دښمنانو زور زيات شي نو د دې بعضې عاشقان هم په دې کوڅه غلے تېرېږي:

د زورورو زور اوبۀ شه
نن مې اشنا په کوڅه غلے
تېرېدنه

دا بيله خبره ده چې آيا د دښمن زور زيات دے کۀ دې د خپلې نامردۍ پټولو دپاره دا بهانه

کوي او د مبارزې کولو نه ډډه کوي. په داسې وخت کښې د اولس پېغور جائز ګرځي چې:

د زورورو به څۀ زور وي
د جانان خپله نامردي ده نۀ
راځينه

بهرحال په داسې حالاتو کښې سياستمدار او اديب او شاعر د يو داسې دوه جنګې لارې سره مخامخ کېږي چې يا به خپله خبره ابغ په نېغه کوي او د دار په سر به ټالۍ وهي او يا به جېلخانې ته ځي:

زرګله په هر دور د ګلچين چې نکته چين دي
په دار ختلي دي يا جېل خانې ته تلي دي

او يا بله لار داسې ګوري چې د خپل اولس د توان او قوت او تنظيم په مقدار او هغې سره په برابر سمون کښې داسې سياسي او ادبي پاليسي اختيار کړي چې نۀ سيخ وسوځي او نۀ کباب او لکه د شمشتۍ د خطرې په وخت خپل سر په ډال ننباسي او بيا ئې راوباسي. د نورو معنو نه علاوه د صبر او زغم




معنې دا هم ده چې لکه دا ونې سيلۍ ته سر په دې ټيټوي چې ماته نۀ شي نو ورسره ورسره چې د سيلۍ زور ختګه او څومره کمېږي هغه ساعت هغه هومره دا خپل سر په ډېر فخر او غرور سره بيا نېغوي. په صبر کښې مقاومت او کشمکش موجود وي. دا ترې خارج نۀ وي.

سياست کول چې کله ګران شي نو ادبي کار ارزان شي. سياسي دروازې چې بندې شي نو ادبي دروازې پرانستې شي. چې سياست په پرېوتو شي نو ادب په ختو شي. چې سياسي تنظيمونو باندې پابندي ولګي نو ادبي تنظيمونه راوټوکېږي. هم دغه وجه ده چې په محکومه پښتونخوا کښې ادبي جرګو مرکو د سياست د جاري ساتلو دنده هم سر ته د رسولو کوشش کړے دے او د مشاعرو کولو، تنقيدي اجلاسونو کولو او اولس سره د دې فلېټ فارم نه د رابطې ساتلو دپاره اکثرو نومورو شاعرانو او اديبانو خپله ملي او طبقاتي فريضه مخ په وړاندې بوتلې ده. په محکومه پښتونخوا کښې صنوبر حسېن کاکاجي، دوست محمد خان کامل صاحب، افضل بنګش، حمزه صاحب، خليق صاحب، قلندر مومند صاحب، اجمل خټک صاحب، مهدي شاه مهدي، اصغر لالا، قمر راهي، فارغ بخاري، رضا همداني، سېد رسول رسا، اشرف مفتون، غني خان، ډاکټر امين الحق امين، ډاکټر حسن خان سوز، ډاکټر اسرار، عبدالرحيم مجذوب، منتظر بېټني، سعدالله جان برق، راحت سيال، قمر الزمان قمر، شمس القمر انديش، همايون هما، پير ګوهر، اشرف غمګين، علي حېدر جوشي، ټېکدار عبدالواحد، اسرار د طورو، شېر افضل ماسټر، عاصي هشنغري، ميا خېرالحق ګوهر، جمال رازي، سردار خان فنا، اشراف حسېن احمد او داسې نورو سپېځلے

کسانو دا کاروان جاري ساتلی وۀ د خپل وخت ترقي پسند ګامونه ئې پورته کول.

ادبي تنظیمونه جوړول، نازک زړونه یو ځائې ته راغونډول، هغوي ته ټاسک ورکول او هغه عملي کول ځان له یو داسې هنر دے چې د اوچتې پایې صلاحیت غواړي. مونږ ځۀ ډېره پوهه او ادبي صلاحیت خو نۀ لرو البته ارادې او جذبې مو ژوندۍ لرلې، کۀ دا ووایو چې مونږ د شاعر نه زیات شاعر ساز او مشاعره ساز وو نو نادرسته به نۀ وي. بیا هم چونکې ادبي دائره کښې کار کول وو نو ځانونه مو ورسره په ډېره ګرانه ادیبان کړي وو او ځۀ غزل یا نظم ګوتے به مو لیکلو:

سیکھین ھین مہ رخون کے لیے ھم مصوري
تقریب کچھ تو بھر ملاقات چاھئے

البته ښۀ شاعران، ادیبان پکښې وو او لا ورپسې زیات شو. د هغوي شاعرانه تخیل لا تېز او پراخه شو او ډېرې ښکلې فنپارې په وجود کښې راغلې. پښتو ادب ډېر غني دے او ډېر داسې نامتو او جهاني شهرت لرونکي شاعران او ادیبان لري. خوشحال خان، رحمان بابا، علي خان، حمید بابا، کاظم خان شېدا، حمزه صاحب، اجمل خټک، غني خان، دوست محمد خان کامل، سلېمان لائق، حبیبي صاحب، ملنګ جان او داسې نور استاذان شته چې د خپل هنر او فن دبدبه ئې په جهان خوره ده او خورېږي. پښتون چې د تُورې مړنے دے قلم نۀ لري ولې چې یونانیانو، مغلو، چنګېزیانو، تېموریانو، ایرانیانو، انګرېزانو، استعمارګرانو او پنجابي پراختیا غوښتونکو سیکانو او اوسنو مسلمانانو، سعودي وهابیانو او سود خورو شېخانو دې قلم را اخستو ته دے پرېښے او نۀ ئې لا تراوسه پرېږدي. د تمدن او تهذیب هغه مرکزونه چې دوي ئې په ډېر مشکله راغونډ کړي هغه ورله وار په وار تالا ترغه کوي او ناروا جنګونه او مداخلتونه د هغوي په وطن کوي او په فرهنګ، تمدن او تهذیب ئې اورونه وروري.

د مغلو تېمور هسې په اور وسوم
چې به هېر په دا ماتم زمیندار کړم

خو بل اړخ ته بېروني یرغلګران د خپل خپل استعماري مقاصدو د حصول دپاره په افغان وطن د قبضې راوستلو او په هغې د حکمرانۍ قائمولو په غرض دې ته لازمي اړ وو چې د پښتون وطن جغرافیه، تاریخ، نفسیات، ادب او روایت د خپلې مطالعې لاندې ونیسي، تجزیه یې کړي او خپلو خپلو ژبو ته ئې واړوي. د دې سامراجي هلو ځلو نتیجه دا شوه چې د پښتو ادب او تاریخ او د هغوي د قهرمانانو او کارنامو د یو وطني او محلي ګمنام حېثیت نه یو بېن المللي حېثیت ومونده او په جهاني تاریخ کښې خوندي پاتې شو. نن هم کۀ څوک لکه د دوست محمد خان کامل صاحب، حبیبي صاحب، استاذ رشاد، قلندر مومند، سید تقویم الحق، همېش خلیل خواري وباسي نو داسې ډېرې ادبي مرغلرې او تاریخي اثار به ځلا وکړي چې په عالمي ادبي بازار کښې به یو هو جوړ کړي.

البته تجرید د ادب د شاعرۍ د مقصد مرګ دے. تجریدي ادب او هنر پاکیزه خیالات، تجربات او مشاهدات او د هغې د خورونې او اولس ته د رسونې رسالت سر ته نهٔ رسوي. د هغې نه انکار کوي. تجریدي هنر او ادب د هنر او ادب نه د انسان د ویستلو یو شعوري کوشش دے چې سامراجي او حکمراني طبقې او هغوي سره تړلي دانشوران ئې په پوره قوت سره کوي.

یو سړي تُورې وهله یو زورور خان ورته ستغې سپورې او کنځل کول خو هغهٔ تُورې وهله. چا ورته ووې چې خان درته دومره کنځل وئیل کوي تهٔ ورته هیڅ نهٔ وائې؟ هغهٔ ووئیل زهٔ ورته په تُورې کښې کنځل کوم. خوار او بې وسه خلق کهٔ د زورور فیوډال یا خان د کنځلو ځواب ورته په ښکاره ټکو کښې نهٔ شي ورکولے نو په تُورې کښې ورته د کنځلو ځواب وئیل بیا هم څهٔ معنٰي لري خو په هر حالت او په هره موقعه د دغې عمل تکرارول به ډېر سخت ناروا، غېر فطري او تاواني وي. د اولس بې وسي کهٔ په وس او د هغوي ناتواني کهٔ په توان بدله شي نو بیا لکه د خوشحال بابا په جار وئیل پکار دي چې:

زهٔ خوشحال کمزورے نهٔ یم چې به ډار کړم
په ښکاره نعرې وهم چې خُلهٔ ئې راکړه

هر پښتون شاعر یا شاعر طبیعته دے او شاعران دومره بې ضرورته زیات دي چې په ښاخو نهٔ اوړي. په اخبارونو، رسالو د دوي شعرونه دومره بوج دے چې وچتولے ئې نهٔ شي البته نثر ته ئې ملا ماته وي. په نثري ساحه کښې د افسانه نګارۍ برخه زیاته ده او علمي برخه ئې کمه ده. د پښتو افسانې معیار (د خیال او هنر په لحاظ) ډېر د تسلۍ وړ نهٔ دے. اکثر افسانې زیاتې رسمي وي، موضوع ئې زړه او ورسته وي او په فني توګه کمزورې وي. بې ځایه طوالت لري او جزئیات نګاري پکښې ډېره وي او د افسانې بنیادي او مرکزي نکتې ته په چابکدستۍ سره نهٔ راځي. د قلندر مومند، مهدي شاه مهدي، جمال رازي او عبدالواحد قلندر نه پس نن د دې فن جنډه د طاهر اپریدي په لاس کښې ښکاري ځوک چې په دې ساحه کښې تېز او ګټور کامونه اخلي.




زمونږ د خلقو یوه فکري او سیاسي مغالطه دا هم ده چې د پلارني وطن په ځائے مونږ د پردي وطن خلقو او ژبو سره ځان پېوست او د هغوي برخه ګرځېدلي ګڼو. خپل شاعران راته پردي او پردي راته خپل ښکاري او یا رانه د کوهي چیند خان جوړ شوي دي چې په کوهي کښې خومره اسمان په نظر راځي هم هغه ټول اسمان ګڼو. کهٔ مونږ د دې مغالطو نه ځانونه راوباسو نو اسمان به راته ډېر پراخه ښکاره شي او بیا به دا ګیله نهٔ کوو چې ګني د پښتو نثر ډېر کم دے. په ازاد افغانستان کښې نن هم د بچو تعلیم مفت او عام دے. سرکاري ژبه ئې پښتو ده او تعلیمي او

تدريسي ژبه ئې هم پښتو ده او ټول سائنسي هنري او ادبي کتابونه ئې په خپله مورنۍ ژبه کښې دي. هلته پښتو نثر ډېر زيات دے ځکه چې دا هر څۀ د خپلواکۍ او واکمنۍ سره تړلي دي:

د عاشق سرې له عشقه ګفتګوئې شي
چې په لوښي کښې څۀ وي هغه ترې توئې شي

يو ليکوال ليکل، نۀ ليکل، زيات ليکل تر لږه وخته پورې ليکل، تر اخره وخته پورې ليکل د دې پورې اړوند لري چې د هغۀ په سينه کښې د خپل وطن، خپل قام، خپل اولس او د هغوي د ښکمرغۍ دپاره څومره د عشق اور بلېږي. د ليک د عمر اندازه د عشق د عمر په اندازه وي. ښۀ ليکونکے او تر مرګه پورې ليکونکے هغه تن کېدے شي چې په زړۀ کښې د زرتشت آتشکده ځائے کړي. يوه داسې آتشکده چې د هغې اور نۀ مري او نۀ کمېږي. د هغې لمبې اسمان سره خبرې کوي. صرف او صرف دغسې آتشکده د ليک هغه سمندر زېږولے شي چې مري هم په اور کښې او پېدا کېږي هم په اور کښې. يوه معمولي د عشق چپه يو هنګامي د مينې تودوښه د پرله پسې ګرم ليک په درياب کښې يو معمولي غورځنګ پېدا کولے شي خو طوفان پکښې نۀ شي راوستے.

سره لمبه ګوره چې څۀ کړي په وچ ډکي
مخ د يار په رحمان هسې چارې کاندې

(کراچۍ **1990**)